همکاری
آلمان
DEUTSCHE ZUSAMMENARBEIT

# د بدخشان ژورنالیستانو د ښځو د توانولو په اړه د رسنیو د رول په باب خبرې اترې وکړې

د ښځو د توانولو په ډګر کې درې کارپوهانو او د هیواد د۶۰ تنو نه زیاتو ژورنالیستانو د فیض آباد د ښځو په مرکز کې راغونډشوی وو او د ښځو د توانولو په اړه درسنیو د رول په باب یې خبرې اترې وکړې. ددې غونډې پایله داوه چې میډیا په ټولنه کې د ښځو د برخې اخیستنې په هڅولو کې زیات ارزښت لري. هغوی ددې توان لري چې پیغامونه خپاره کړي او د ښځو د ننګوونو په باب د خلکو پوهاوي لوړه کړي. هغه څه چې تر ټولو ارزښت لري دادی چې میډیا د ښځو غږ پورته کوي او په دې توګه هغوی ته ددې امکان ورکوي چې د افغانستان د حکومت، د اړونده ډلو او ټولنې سره په مجموع کې په فعاله توګه ښکیل شي.

د رسنیو د غونډې په لومړۍ برخه کې درې افغاني کارپوهې لکه د بدخشان د ښځو د چارو مشرې میرمن ذوفنون حسام ناطق، د ښځو د حقونو فعاله میرمن ناجیه سروش او د افغان–المان د همکارۍ د پرګرام غړې میرمن نسیمه سحر خپلې ویناوې وړاندې کړې او د خپلې کارپوهنې په ډګر کې یې توضیحات ورکړل.

میرمن ذوفنون حسام ناطق د افغانستان  په ټولنه کې  د ښځو د برخې اخیستنې په اړتیا ټینګار وکړ او داسې یې وویل: "یو هیواد نشي کولای په دوام لرونکې توګه پراختیا ومومي که چیرې د هغې نیمایي وګړي د پراختیا په لړۍ کې شامل نه وي." هغې زیاته کړه:  "نن زه غواړم  د هیواد ټولې رسنۍ دې ته راوبولم چې په ټولنه کې د ښځو سره د هغوی د رول په لوبولو کې مرسته وکړي. راشئ نورو ته وښیو چې افغاني ښځې څومره مستعدې، ماهرې او پیاوړې دي".

میرمن ناجیه سروش هغه حساس رول  ته اشاره وکړه چې رسنیو په وروستیو کلونو کې د افغانو ښځو د پیاوړي کولو په لاره کې لوبولی دی. هغې زیاته کړه: "رسنۍ نه یوازې د ښځو ذهنیت ته بدلون ورکړی دی، بلکه له هغه زیات مهم دا چې هغوی د نارینه وو ذهنیت ته هم بدلون ورکړی دی. نارینه اوس د هغو ښځو سره چې ددوي په چاپیریال کې دي، مرسته کوي".

میرمن نسیمې د افغان–المان د همکارۍ د پروګرام د پراخو کارونو په باب روښنایي واچوله او داسې یې وویل: "په بدخشان کې د المان حکومت د ښځینه زده کوونکو دپاره د یوې لیلې د ودانولو، د یوه ښځینه باغ او یوه روزنیز مرکز د جوړولو دپاره مالي مرسته کړېده. سربیره پردې، د المان حکومت د تکنولوژۍ د معلوماتو، ګڼډنې، د خوراکي موادو د پروسس او د طبیعي ناورینو د مخنیوني په ډګرونو کې د ښځو دپاره د روزنیزو او عملي پروګرامونو په پرمخ بیولو سره د افغانی ښځو په توانولو کې هم مرسته کوي ".

د غونډې په دوهمه برخه کې، د پوښتنو او ځوابونو په ناسته کې نوموړو کارپوهانو د کورنیو او ملي تلویزیونونو، راډیوګانو او ورځپاڼو د ۶۰ تنو نه زیاتو استازو پوښتنو ته ځواب وواېه. میرمن ذوفنون د دې پوښتنې په ځواب کې چې ددې هیله د رسنیو څخه څه ده داسې وویل: "هیله لرم چې د جندر د موضوعګانو په اړه ډېر شمیر څېړنیز او ژور ریپوټونه ووینم، څکه دا کار د اړونده لوریو سره مرسته کوي چې پوه شي چې هغوی د خپلو کړنو په وړاندې ځواب ورکوونکې دي. "

"په ۲۰۱۶ کال کې د رسنیو غونډه – د افغانستان د رسنیو ټولنیزه دنده" د هغو منظمو غونډولړۍ ده چې د افغان–المان د همکارۍ د پروګرام او سجنا له خوا په ګډه جوړېږي. په دغې غونډه کې د عامه سکتور، مدنې ټولنې، پراختیایي سازمانونو کاروپوها او د رسنیو استازی  د پراختیایي مسئلو په باب د خبرو اترو په موخه ګډون کوي.

Teaser text:
دا دهغې غونډې پایله وه چې د تیرې سه شنبې په ورځ د بدخشان ولایت د فیض اباد په ښار کې د سجنا په نامه د افغانستان په شمال کې د ژورنالیستانو د ټولنیزې ټولنې او د افغان–المان د همکارۍ د پروګرام له خوا په ګډه جوړه شوې وه.
تقدمونه:

همکاری آلمان
DEUTSCHE ZUSAMMENARBEIT

ښه حکومتوالي
Province:
بدخشان
Downloads:
خبرپاڼه ـ د بدخشان ژورنالیستانو د ښځو د توانولو په اړه د رسنیو د رول په باب خبرې اترې وکړې ـ پښتو
Image:
Pic-20160728-Badakhshan’s Journalists Discuss Media’s Role in Women Empowerment
Subtitle:
په تیرو وروستیو څوارلسو کلونو کې د افغانستان رسنی د ښځو د توانولو په لاره کې د پاملرنې وړ رول لوبولی دی او اوس هم دغه رول لوبوي
د خبر ډول:
Press release

07.05.1395
- English
- دری